# دَ یوحنا رسُول دویم خط

## یوحنا رسُول دویم باب ۱

### سلام

۱ دا خط دَ مشر له طرف نه دے،اَوْ هغه میرمنے اَوْ دَ هغې بچو په نُوم لیکلے کیږی چا سره چه زَهٔ
رښتینی مینه لرم،یواځے زَهٔ نه،بلکه ټول هغه څوک چه دَ حق نه خبر دی، ۲ اَوْ دَ حق دَ خاطره چه په
مُونږ کښې دے اَوْ تل تر تله به په مُونږ کښې پاتے وی.

۳ دَ خُدائے پلار اَوْ دَ هغهٔ دَ زوئے عیسیٰ مسیح فضل،رحم اَوْ سلامتی دِ په حقیقت اَوْ مینے سره په مُونږ
کښې پاتے وی.

### حقیقت اَوْ مینه

٤ زَهٔ په دے ډیر خوشحاله شوم چه مے واؤریدل چه ستاسو ځنی بچی دَ حق په لار روان دی څنګه چه
پلار مُونږ ته حُکم کړے وُو. ٥ اَئے خوږے میرمنے! اوس زَهٔ درته یو عرض کوم چه راځئ چه دَ یو بل
سره مینه لرُو.دا خیال مه کوئ چه نوے حُکم درکوم بلکه هغه یو دوباره دریادوم کُوم چه مُونږ ته دَ اول
نه راکړے شوے وُو. ٦ اَوْ دَ مینے نه زما مطلب دا دے چه مُونږ دَ خُدائے په حُکمُونو عمل وکړُو. دا هم
هغه حُکم دے چه تاسو له اول نه آؤریدلے دے چه تاسو ته پکار دی چه په مینه کښې ژوندُون تیر کړئ.

۷ ډیر فریبیان دُنیا ته راغلی دی چه دَ عیسیٰ مسیح په جسم کښې دُنیا ته راتلل نهٔ منی،داسے کسان لوئے
ټګماران اَوْ خر دَ جالان دی. ۸ تاسو خبردار شئ. چه کُومه خواری چه مُونږ په تاسو کړے ده،هغه دِ
ستاسو په سبب ضائع نهٔ شی بلکه تاسو دِ دَ هغې پُوره اجر بیا مُومئ.

۹ هر هغه څوک چه دَ مسیح په تعلیم قائم پاتے نهٔ وی بلکه هغه پریږدئ،دَ هغهٔ سره خُدائے نِشته،څوک
چه دَ مسیح په تعلیم عمل کوی نو دَ هغهٔ سره پلار اَوْ زوئے دواړه شته. ۱۰ که څوک درته راشی اَوْ دا
تعلیم درنهٔ کړی نو هغه خپل کورته مه پریږدئ اَوْ مه ورته سلام وایئ. ۱۱ ځکه چه هر هغه څوک چه هغهٔ
ته سلام وائی،هغه دَ هغهٔ په بدو کارُونو کښې شریک دے.

### آخری سلام

۱۲ ډیرے خبرے داسے دی چه زَهٔ ئے تاسو ته لیکل غواړم خو دَ هغې زَهٔ په لیک کښې راوستل نهٔ
غواړم،خو زَهٔ دا اُمید لرم چه دربه شم اَوْ درسره به مخامخ خبرے وکړم دَ دے دَ پاره چه زمُونږ خوشحالی
پُوره شی.

۱۳ هغه خور چه خُدائے غوره کړے ده دَ هغې بچی تا ته سلام وائی.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved